

# کيسي شريکول

تاسو تل د کلمو لوستلو ته اړتيا نلرئ. انځوريزو کتابونو ته کتل او په اړه يې خبرې کول ستاسو ماشوم هڅولو لپاره يوه ښه لار ده چې کيسو څخه خوند واخلي. که تاسو په کور کې په بله ژبه خبرې کوئ، د انځورونو او کيسې په اړه په خپله ژبه خبرې وکړئ.

**کله چې تاسو کتابونه شريک کوئ تاسو کولی شئ يوځای ساتيري وکړئ:**

- د کتاب د پوښ په اړه خبرې وکړئ او سرليک يې په ګوته کړئ.
- خپل ماشوم ته اجازه ورکړئ چې کتاب ونيسي او پاڼې واړوي.
- هغوی وهڅوئ چې د انځورونو په اړه خبرې وکړي.
- د مختلف کارکتورونو لپاره مختلف غږونه وکاروئ. د خولې غږونه پکې اضافه وکړئ لکه په اوبو کې د شرپ شرپ، د موټر هارن وهل يا د ځارويو غږونه وباسل.
- کله چې کيسه پای ته ورسي، کولی شئ له دوی څخه وپوښتئ چې آيا دوی خوښه شوه او آيا د خوښې وړ کارکتور لري.

**ايا تاسو خبر** ياست هغه ماشومان چې په پنځه کلنۍ کې د مور او پلار لخوا په منظمه توګه ورته لوست شوی وي، په 16 کلنۍ کې د رياضۍ، لغتونو او املا په ازموينو کې د هغو ماشومانو په پرتله زيات ښه وي چې ادډول مرسته ورسره نه وي شوې؟[5]

**ايا تاسو خبر** ياست چې ماشومان اکثرا د خوښې کيسه لري چې دوی يې بيا بيا اوريدل غواړي؟ دا له دوی سره مرسته کوي چې د کلمو ترتيب زده کړي او ليکل شوي کلمه له کيسې سره وصل کړي - کوم چې د لوست د زده کړې لومړني ګامونه دي!

## د وړو خبرو فکر

د خپل ماشوم سره د هغه څه په اړه خبرې وکړئ چې تاسو به خپل ماشوموالي کې کول. ټوله کورنۍ پکې شامله کړئ - نياګاني او نيکونه کېدی شي د خپلې ماشومتوب په اړه د شريکولو لپاره کيسې ولري!

## د ستورو مشوره

يو ځای يوه سمڅه يعني غار جوړ کړئ (لکه د ميز په سر يوه ټوکر سره)، چې تاسو دواړو لپاره کافي ځای ولري. تاسو کولی شئ سمڅه د کيسې يوه برخه جوړه کړئ - دا کيدای شي د ديوانو غار، د راکټ کښتۍ، يا د شهزادګۍ برج وي.